آصف بهاند ۲۰۱۷/۰۱/۲۶

# لارورکي لارویان

## شیرِ ویشتمه برخه

## تصویري فرهنګي فعالیتونه

### د آریانا فلم هنري مؤسسه:

د آریانا فلم هنري مؤسسه د تکړه ډایرکټرانجنیرلطیف احمدي په نوښت او د تلویزیون د تکړه نطاق احمد شاه شهاب په مالي او تخنیکي مرسته په ماسکو کې جوړه شوه. د دې هنري مؤسسې لومړنی کار یو هنري فلم و، چې «مها جرت شیرین ګل و شیرآقا» نومیده. شیرین ګل او شیرآقا هغه هنري فلم دی، چې د انجنیرلطیف احمدي په ډایرکټ او لاربنوونه جوړشوی دی او د لارورکو لارویانو د سرګردانه ژوند یوه ترخه برخه په کې انځور شوې ده.
په دې فلم کې ښودل کیږي چې د نا اهله سیاسي رهبرانو د نا پوهی او د تږوکیانو د جهالت دروند پیټی څنګه د عامو خلکو پر اوږو بار دی او څنګه تر دې درانه پیټي لاندې د مهاجرت د ترخه ژوند ترخې شیبې په څومره مجبوریتونو په پردیو وطنو کې تیروي.
دغه راز د یادونې وړ ده چې سعید ورکزي هم په ماسکو کې د ځینو هنرمندانو سندرې د ویډیو کلپ په بڼه جوړې کړي دي. لکه د جواد غازي یار سندرې.

### د سیواستوپول په هوټل کې د افغانانو له پاره تلویزیوني خپرونې:

دا تلویزیوني خپرونې په پیل کې نه د کوم فرهنګي فعالیت، بلکې په سیواستوپول کې په کار لګیا افغانانو د خوشحالتیا او مصروفیت په موخه پیل شوې. په پیل کې د تلویزیوني نشراتو مشري د نذیر په نامه یوه افغان ته ور په غاړه وه. له بده مرغه چې نوم وړي افغان په دې برخه کې یا هیڅ تجربه نه درلوده او که یې درلوده هم ډیره لږه به وه چې په مؤثریت یې څوک نه دي پوه شوي.
د تلویزیون په نشراتو کې کوم معلوماتي او روزنیز پروګرام ځای نه درلود، یوازې سندرې، فلمونه او ګډا ګانې به خپریدې. له مازې چې د ګډا کوم کست به په لاس ورغی، دوی به خپراوه، په دې پسې نه ګرځیدل چې دا ګډا د چا ده او کست چیرې د څه له پاره ډک شوی دی. یو وار داسې هم واوریدل شول چې د دې ګډا ګانوله خپریدونه چا شکایت کړی و.
له ښاغلي نذیر څخه وروسته، ښاغلي سعید ورکزی ته د دې تلویزیون مشري ور وسپارل شوه.
سعید ورکزی د افغانستان یو پیژندل شوې فرهنګي څیره ده چې په ځانګړې ډول د سینما او تلویزیون په برخه کې خورا اوږدې او ښې تجربې هم لري. د ده په راتګ سره نوم وړی تلویزیون د افغان تلویزیون په نامه ونومول شو او په خپرونو کې یې د قدر وړ بدلونونه راوستل شول.

### غرېز فرهنګي فعالیتونه:

د غرېزو فرهنګي فعالیتونو په برخه کې د امان اشکریز او سعید ورکزي نومونه د یادونې وړ دي. دوی دواړو د افغانستان د موسیقي، تمثیلي ټوټو او افغاني فلمونو د تکثیر او شایع کولو په برخه کې د قدر وړ خدمتونه کړي دي.
دوی له دې لارې هم خپل تجارت پر مخ بیوه او هم یې د افغانستان د فرهنګ په ځلولو او رواجولو کې لوی رول لوباوه.
ښاغلي امان اشکریز د نورو فرهنګي فعالیتونو تر څنګ، د مرزا قلم د تمثیلي پارچو سلسله هم ژوندي او جاري وساتله او د مرزا قلم د سلسلې لس ډیرې جالبې، خوندورې او روزونکې برخې یې ثبت او د بي بي سي رادیو له لارې یې د خپلو هیواد والو تر غوږونو پورې و رسولې.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

## د افغانستان ژورنالستانو ټولنه:

د افغانستان د ژورنالستانو ټولني د مؤسسينو شورا لس غړي درلودل، چي په خپله لومړنۍ غونډه کي يې د افغانستان د ژورنالستانو ټولني اساسنامه تصويب کړه او دا يې وپتيله چي ياده ټولنه به ناپيلي وي.
د دي ټولني د رسمي جوړيدو نيټه ما ته نه ده مالومه؛ خو د وحدت جريدي د ۱۳۷۵ هجري شمسي کال د سنبلي په پنځه ويشتمه (د ۱۹۹۶ کال د سپتمبر ۱۵) ګڼه کي د افغانستان د ژورنالستانو ټولني د جوړيدو خبر خپور شوی دی.
د مؤسسينو شورا له خپل منځه محمد موسی اکرمي د رييس، محمد عالم دانشور د فرهنګي مرستيال، نذيراحمد د مسؤل سکرتر او شفيع الله کاوروز د نشراتو د مسؤل په توګه وټاکل. د وحدت جريدي د يادي ګڼي په حواله، د دي ټولني اساسنامه د روسيي په عدليي وزارت کي ثبت او راجستر شوي چي د هغي پر بنا ټولنه خپل فعاليت ته دوام ورکوي.

## په ماسکو کي د افغان ميرمنو ټولنه:

په افغانستان کي د ټوپکي زورواکی له راتګ سره سم، د عادي ژوند او فعاليت دايره داسي تنګه شوه چي نور نو په کي اوسيدل اصلاً نا ممکن و. د ټوپکي زورواکی د سره اور له دايري نه د وتلو سل ګونو زرو افغانانو په ډله کي په زرګونو افغان ميرمني او پيغلي ماسکو کي مهاجري شوي دي. د دي ميرمنو او پيغلو اکثريت د لوړو زدکړو خاونداني او روڼ اندي دي، چي په افغانستان کي يې د ډاکترانو، ښوونکو، هنرمندانو، ژورناليستانو په صفت کار کړی دی.
دوی اوس دي ته اړوتلي دي چي په کورونو کي کيني؛ خو دوی د ځان د مصروف ساتلو، د افغان کړيدلو ميرمنو د غږ د اوچتولو او په ژوند کي يې د يو مثبت بدلون په خاطر د افغان ميرمنو ټولنه جوړه کړه.
د افغان ميرمنو ټولنه د ۱۹۹۶ م کال تر جولای پوري دري سوه غړي درلودې. د دي ټولني مرکز په ماسکو کي د افغان مهاجرو ماشومانو په ښوونځي کي و. افغان ميرمني کله، کله د خپل هيواد د ملي او تاريخي ورځو په مناسبت سره ټوليدې او دا ورځي يې لمانځلې. دي ټولني دوې برخي درلودې:

۱ ـ د زدکړوبرخه،
۲ ـ د عملي کارونو برخه.

## په ماسکو کي د افغان مهاجرو کوچنيانو له پاره ښوونځي:

سره له دي چي په ماسکو کي افغانان په سياسي خلا او بي سرنوشتی او په کړاو کي ژوند کاوه، خو بيا هم ډيری افغانان د خپلو کوچنيانو د زدکړو په فکر کي وو.
زما د معلوماتو له مخي په ماسکو کي د افغانانو په نوبت د افغان مهاجرو کوچنيانو له پاره پنځه ښوونځي جوړ شوي وو، چي نومونه يې په دي ډول دي:

### ۱ـ د کوزمينکي ښوونځی:

دا ښوونځی د ماسکو ښارپه منځ کي موقعيت درلود. د کوزمينکي په نامه ځکه يادېده چي د کوزمينکي د ميترو په سيمه کي پروت و. د کوزمينکي د ښوونځي پروګرام د ملګرو ملتونو د مهاجرينو د اداري له خوا تنظيم او د اکليير د خيريه مؤسسي له خوا عملي کيده.

### ۲ ـ د زيليوني ګراد د کمپ ښوونځی:

دا ښوونځی د افغانانو په مټ او د اکليير د خيريه مؤسسي په مرسته، د ماسکو په ولايتي سيمه د زيليوني ګراد په ښارګوټي کي د افغان مهاجرينو په لاګر(کمپ) کي جوړشوی و.

### ۳ـ د ويربيلکي د کمپ ښوونځی:

دا ښوونځی هم د افغانانو په نوبت او د اکليير د خيريه مؤسسي په مالي مرسته د ماسکو د ولايت په ويربيلکي سيمه کي، د افغان مهاجرينو په کمپ کي جوړشوی و.

### ۴ـ د ميتيشي ښوونځی:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکې په ځير و لولئ

دا ښوونځی د میتیشه په سیمه کې جوړ شوی و چې د اکلیبر د خیریه مؤسسې له خوا تمویلیده.

## ۵ـ ماما (مکتب ابتدایي مهاجرین افغان):

دا یو شخصي ښوونځی و چې د ښاغلي سید اعظم اخګر له خوا د ۱۹۹۶ م کال په اکتوبرکې تآسیس شوی و. په لومړي سر کې دې مکتب د افغانانو په تجارتي مرکز سیواستوپول هوټل کې فعالیت درلود، خو وروسته د ځای د کرايې د لوړوالي په وجه بل ځای ته کډه شو. دې ښوونځي د فیس په بدل کې افغان کوچنیانو ته تدریس کاوه.

## کودکستان امید:

په دې وړکتون کې د افغانانو هغه ماشومان منل کیدل چې له ۵ تر ۱۲ کالو عمر یې درلود. دا وړکتون هم د اکلیبر د خیریه موسسې له خوا تمویلیده.
د ښوونځیوو په برخه کې د دې خبرې یادول هم ډیر ضروري دي چې دا کاملا سمه ده چې اکثریت افغانانو د خپلو کوچنیان له زده کړو سره مینه درلوده؛ خو له بده مرغه چې په یادو ښوونځیو کې تدریس دومره مثبته پایله نه درلوده. دلایل یې هم ښکاره وو. زما د سترګو د لیدلي حال او تجربې له مخې په پردي چاپیریال کې په مورنۍ ژبه تدریس یا د مورنۍ ژبې زدکړه، دومره موثرنه وي، په تیره په داسې چاپیریال کې چې هر څه یې زموږ له کلچر، کړو وړو او ژبې سره په توپیر کې دي.
په یادو ښوونځیو کې افغان کوچنیان په اونۍ کې یوازې د څو ټاکلو درسي ساعتونو له پاره د تدریس په خاطر حاضریدل، نور ټول وخت به یې یا په بله ژبه په بل ښوونځي کې تیراوه او یا به یې د مزدورۍ په جریان کې د پردي کلتور او پردۍ ژبې تر کلک یرغل لاندې وخت تیراوه.

د شیرړ ویشتمې برخې پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ